بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۲ غبرګولی ۱۴۰۴ هـ ش　۱۵ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۶ هـ ق　۱۲ جون ۲۰۲۵ م　مسلسله شمېره (۱۰۱)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې عالي مقام تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې عالي مقام تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست ته د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) (۳) قطعې فرمانونه، د ریاست الوزراء عالي مقام (۱۰۶) حکمونه او د کابینې (۳) قطعې مصوبات راغلي دي؛ چې د سترې محکمې د عالي مقام تر لارښوونو وروسته د نورو اجراآتو لپاره اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۲ـ د سترې محکمې عالي مقام تحریراتو ریاست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د مخابراتو وزارت څخه (۱۱۱۲) قطعې مکتوبونه ترلاسه کړي؛ چې اړوندو شعبو ته توزیع شوي دي.

۳ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست ته د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسیونونو، د هېواد د (۳۴) ولایتونو د محاکمو او نورو اړوندو ادارو څخه (۵۹۵) رسمي مکتوبونه د سترې محکمې په عنوان را رسېدلي؛ چې د عالي مقام له هدایت وروسته اړوندو مراجعو ته د وروستیو اجراآتو لپاره لېږل شوي دي.

۴ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست لخوا د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د سترې محکمې (۵) وړاندیزونه د ریاست الوزراء مقام ته د منظورۍ او تصویب په موخه وړاندې شوي دي.

۵ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست ته د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د ریاست الوزراء، د نظارت لوی ریاست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غیر امارتي بانکونو او د سترې محکمې مرکزي ریاستونو له لوري (۱۱۶۶) مکتوبونه، د استهداء برخې دوسیې، د تجدید نظر غوښتنې، د صلاحیت تفویض، د محکمې د تبدیلۍ او د هېواد د بېلابېلو محاکمو د هدایت غوښتنې ترلاسه شوې، چې د عالي مقام له هدایت وروسته اړوندو ادارو ته د اجراآتو لپاره سپارل شوي دي.

۶ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۱۴۸۳۴) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د ارشیف له لارې صادر او وارد شوي؛ چې اړوندو برخو ته تسلیم او انتقال شوي دي.

۷ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د هېواد له ټولو ولایتونو، د مرافعه محاکمو څخه (۱۹۴) قطعې مکتوبونه د سترې محکمې د مخزن عمومي مدیریت ته راغلي؛ چې د هغې له جملې څخه (۱۶۶) قطعې مکتوبونه د قبالو او نورو وثایقو د معلوماتو په اړه وو او په اړه یې اړوندو مراجعو ته معلومات وړاندې شوي دي.

۸ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست لخوا د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۲۸) قطعې مکتوبونه، (۱۶۰) جلده کتابونه چې (۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲هـ.ش) کلونو د وثیقو کلنې راپورونه په کې شامل وو؛ د ساتنې په موخه مخزن ته تسلیم او ځای پر ځای شوي دي.

۹ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د اداري معاونیت او د مالي او اداري چارو عمومي ریاست اړوند (۴۰) سوابق په مخزن کې ثبت او ساتلي دي.

۱۰ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د مراجعینو (۲۵۰۷) عرایض د مقام د هدایت پر بنسټ ثبت کړي او تر اجراآتو وروسته یې خپلو مراجعینو ته بېرته ور سپارلي دي.

۱۱ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست لخوا د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۸۶) دعوه کوونکو او د بهرنیو ادارو استازو ته چې د پارسلونو یا مکتوبونو ترلاسه کوونکي وو؛ د اړینو معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته د هدایت مطابق اړوند شعبو ته لارښوونې ورکړل شوې دي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۱**

**نېټه: ۱۴۴٦/۱۰/۲۵ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د متحدالمآل نمبر (۹) مؤرخ ۱۴۴۶/۳/۲۲هـ ق په تعقیب.

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر (۵) مؤرخ ۱۴۴۵/۲/۲۲هـ ق چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۹) مؤرخ ۱۴۴۶/۳/۲۲هـ ق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی دی د یاد فرمان د هدایت مطابق په استیناف او تمیز مرحله کې د موضوعاتو په اړه مستقله فیصله نشي کېدلای؛ بلکې استیناف او تمیز به د ابتدائیه محکمو فیصلې ګوري که د تائید وړ وي تائید به یې کړي او که د تائید وړ نه وي تر نقض وروسته به یې مربوطه ابتدائیه محکمې ته د اصلاح په موخه استوي، په همدې اساس د سترې محکمې د محترم عالي مقام د هدایت مطابق د ټولو ولایتونو استیناف محکمې او د تمیزونو اړوند دیوانونه دې د هغه موضوعاتو دوسیې چې د یاد فرمان څخه وروسته یې په اړه په استیناف او تمیز مرحله کې مستقلې فیصلې صادرې شوې او تطبیق شوې نه دي، یادې دوسیې دې د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته ذکر شوي فرمان مطابق مربوطه ابتدائیه محکمو ته واستول شي.

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۲**

**نېټه: ۱۴۴٦/۱۱/۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲۱) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۰/۲۵هـ ق په تعقیب:

د پورته ذکر شوي متحدالمآل په اړه ځینو محکمو د هدایت غوښتنه کړې چې: "د ترتیب وشي"په اړه یې د سترې محکمې مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۵) مؤرخ ۱۴۴۶/۲/۲۲ هـ ق څخه مخکې په استیناف او تمیز مرحله کې د مستقلو صادرو شوو فیصلو په اړه چې څرنګه د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته ذکر محترم عالي مقام داسې هدایت وکړ: "د یاد فرمان څخه مخکې یا وروسته په استیناف او تمیز مرحله کې صادرې شوې مستقلې فیصلې چې تطبیق شوې نه وي ټولې دې شوي فرمان مطابق مربوطه ابتدائیه محکمو ته واستول شي."

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:**

**۱۰ - عثمان بن أبي العاص رضي الله عنه:**

**دویمه برخه**

او عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه د عمر رضي الله عنه خلافت دوره کې یې کلونه غزاوې وکړې او عثمان رضي الله عنه به په دوبې کې غزا کوله، بیا به یې ژمی «توج» کې تېراوه او دده په لاس د «اصطخر» دویمه فتحه په ۲۷ هجري کال کې وشوه او ځینو ویلي چې «اصطخر» د عبدالله بن عامر لخوا په ۲۹ هجري کال کې وشوه، چې عثمان بن عفان رضي الله عنه ورته ۱۲ زره جریبه ځمکه جلا کړه.

عثمان بن ابي العاص په بصره کې اوسېدلو، چې د معاویه رضي الله عنه د خلافت په دور کې وفات شو.

قدرمنو لوستونکو! ځینې نور داسې روایتونه هم راغلي دي، چې په نبوي دوره کې قضاتو صحابه کرامو یادونه په کې شوې ده، مګر موږ په هغه لنډ څه بسنه کوو، کوم چې مو وړاندې ذکر کړل.

تر دغه ځای پورې په نبوي دوره کې د قضائي چارو د تنظیم بیان پای ته ورسېد، چې د تفصیل لپاره یې کولای شئ د تاریخ او ژوند لیکونو کتابونه مطالعه کړئ.

اخذلیک: تتمة النظام، ۵۵ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحیم راشد

## په لغمان ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولایت علیشنګ ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته له کوره د تېښتې او تښتولو په جرم؛ د دوشنبې په ورځ(۵/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (حقاني)، د علیشنګ ولسوالی د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمد قاسم (حماس)، د یادې ولسوالۍ ولسوال قاري عبدالقاهر (متوکل)، امنیه قوماندان، د عبدالله بن عمر لیوا د ۲ کنډک قوماندان مولوي سیف الله، د استخباراتو مدیر محمداجان (همدرد)، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو آمر مولوي عاشق الله (بختیار)، د امارتي ادارو یو شمېر نورو مسؤولینو او منسوبینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

د غونډې حاضرینو ته د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (حقاني)، د علیشنګ ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس او د مرافعه محکمې د دعوت او ارشاد مسؤول مولوي عبدالمالک (صدیقي) د حدودو او تعزیراتو د اهمیت په تړاو تفصیلي ویناوې وکړې.

غونډه د مرافعه محکمې مدني دېوان د مفتي مولوي حسین احمد (حقاني) له لوري د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې ابتدائیه محکمې یاد مجرمین پر شپږ ـ شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۰ـ ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو او یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## په خوست ولایت کې اوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت تنیو او صبریو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې اوو کسانو ته د لواطت، قتل مجروحیت او غلا په تور؛ په ۳/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محاکمو یاد متهمین له دریو میاشتو تر لس کالو پر تنفیذي بند او له ۳۵ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوې.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم الحاج مفتي امین الله (منیب)، د مرافعه محکمې د عامه امنیت دېوان مفتي اسدالله (حیدري)، د تحریراتو آمر مولوي عیدمحمد (حمیدي)، عامو هېوادوالو او مسؤولینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې رئیس د تعزیراتو او حدودو پر ارزښت تفصیلي وینا وکړه وویل، دا څو کاله جهادي مبارزه قرباني او تکالیف په همدې خاطر وو چې اسلامي شریعت حاکم شي، د ځمکې پر مخ الهي قانون پلي شي، ځکه چې اسلامي شریعت د عقل، مال، نفس او نسب په ساتنه ټینګار کوي او د یادو شیانو تحفظ په حدودو او تعزیراتو کېږي.

دغه راز د عامه امنیت دېوان مفتي هم د تعزیراتو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.

غونډه د تنیو ولسوالۍ د مسجد امام لخوا د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت سمنگان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی روی دو آب ولایت سمنگان به شمول یک زن بالای دو تن به اتهام فعل زنا؛ به تاریخ ۳/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین مذکور را به ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

این حکم در حضور مسؤولین قوماندانی امنیه، امر بالمعروف، نهی عن المنکر و شکایات، تعقیب و نظارت از احکام و فرامین و ادارات دیگر امارتی تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار مجرم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان امنیت عامهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب به شمول یک زن بالای چهار تن به جرم‌های دیوثی، باجگیری و فریبکاری؛ به تاریخ ۳۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان امنیت عامه از جمله مجرمین یک مجرم را به هفت سال حبس تنفیذی و ۳۵ دُره، مجرم دوم را به شش سال حبس تنفیذی و ۳۵ دُره و دو مجرم دیگر را به پنج ـ پنج سال حبس تنفیذی و ۳۰ـ ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در صحن محکمهٔ شهری در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، قضات، اعضای قضائی، مسؤولین ملکی، نظامی، علمای کرام و جمع کثیری مردم عام تطبیق شد.

## د کابل ولایت د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۳) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دریو کسانو ته د الکولي مشروباتو او نشه‌یي تابلیتو "ذیکپ" د خرڅلاو په جرمونو؛ په ۲۹/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له یو کال څخه تر دوو کالو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

دغه پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شوه.

## په پکتیا ولایت کې دریو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت د احمدآبا ولسوالی ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دریو کسانو ته د غلا او لواطت په تور؛ د دوشنبې په ورځ ۲۸/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې دوه متهمین پر ۳۵ـ ۳۵ دُرو او دریم متهم پر ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

د تعزیري سزا حکم د ابتدائیه محکمې په انګړ کې د قضائي پلاوي، د یادې ولسوالۍ مسؤولینو، علماء کرامو او قومي مشرانو په شتون کې پر متهمینو تطبیق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت بدخشان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی یفتل ولایت بدخشان بالای یک زن که متهم به فعل زنا بود؛ به تاریخ ۲۷/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهم مذکور را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضورداشت منسوبین و مسؤولین ادارت امارت اسلامی و شماری از مردم محل تطبیق گردید.

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا څلورو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې؛ څلورو کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو "ذیکپ" او چرسو د خرڅلاو په جرم، د دوشنبې په ورځ ۲۸/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمه یاد مجرمین پر اوو ـ اوو میاشتو تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۲۰ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

دغه پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

## د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) تعلیمي مرکز له پنځمې دورې څخه (۱۶۰) مجاهدین فارغ شول

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) قوماندانۍ د نظامي او مسلکي زده کړو له پنځمې دورې څخه په (۲۷/ذوالقعدة الحرام/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټه (۱۶۰) مجاهدین فارغ شول.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معین محترم مولوي حیات الله (مهاجر)، د کندهار زون د نظامي محکمې رئیس محترم الحاج مولوي محمد ګل (صیاد)، د سترې محکمې د عامه امنیت دېوان رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي)، د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض (سعید)، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو نورو رئیسانو او د نورو امارتي ادارو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

غونډه د حافظ مولوي حضرت ولي لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې د عامه امنیت دېوان رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) مجاهدینو ته له نظامي مسلکي زده کړو څخه د فراغت مبارکي ورکړه وویل، د اسلامي نظام د لا استحکام لپاره د اعداد ستریاوې په مینه او پوره اخلاص تیرې کړئ.

محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) د اعداد د اړتیا او د امیرانو د اطاعت په اړه تفصیلي خبرې وکړې او مجاهدینو ته یې په خطاب کې وویل، دا د اعداد د ستړیاوو په مینه پاللو او د امیرانو د رښتیني اطاعت برکت دی چې په اوسني عصر کې زموږ پر ګران هېواد کې اسلامي نظام حاکم دی او د الله تعالی حدود جاري کېږي.

د غونډې په دوام د کندهار زون د نظامي محکمې رئیس محترم الحاج مولوي محمد ګل (صیاد) نویو فارغینو ته مبارکي ورکړه وویل؛ د الله تعالی له لوري بنده ته په ورکړل شوي نعمت شکر ایستل لازمي دي او تر ټولو لوی نعمت اسلامي حاکمیت او آزادي ده چې دغه لوی نعمتونه الله تعالی افغانانو ته نصیب کړل.

هغه زیاته کړه، د دغه لویو نعمتونو شکرانه د اسلامي نظام د امیرانو په پوره اطاعت او ایمانداری سره وکړئ؛ تر څو الله تعالی در څخه راضي او د دنیا او آخرت د سعادت سبب وګرځي.

یاده غونډه مجاهدینو ته د تصدیق پاڼو له ورکړې وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي معین محترم مولوي حیات الله (مهاجر) په اختتامیه دعاء سره پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده چې د غونډې په جریان کې د سترې محکمې د مسؤولینو لخوا د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو رئیس محترم لوی پاسوال الحاج مولوي محمد عوض (سعید) او د ملکي محاکمو د امنیتي قطعاتو قوماندان پاسوال مولوي عبدالله (عزام) ته د دوی د ښه خدمت د ستایلو په پار ستاینلیکونه ورکړل شول.

## د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱. مرکزي رياستونو ته مکتوبونه لېږل شوي تر څو د سترې محکمې د ترسره شويو پلاني او غير پلاني فعاليتونو راپورونه راټول شي.

۲. د پلان مطابق د دويمو واحدونو څخه د مياشتني راپور راټولولو لړۍ له ۳۴ ولايتي مرافعه محاکمو څخه دوامداره ده؛ راپورونه تر توحيد وروسته د اداري معاونيت، قضائي تفتيش عمومي رياست او د کارکوونکو چارو عمومي رياست ته د اجراآتو لپاره لېږل کېږي؛ همدا راز ربعوار راپورونه په ټاکلي وخت کې راټولېږي او اړوندو ادارو، لکه د امر بالمعروف وزارت، د چارو اداري لوی رياست، د مقام دفتر او اداري معاونيت ته استول کېږي.

۳. د ستراتيژيک پلان پر بنسټ، د درېيمې ربعې لپاره د نظارت او ارزونې موخو لپاره ځانګړي چک لېستونه ترتيب شوي، چې د رياستونو د فعاليتونو د څارنې او ارزونې لپاره کار ترې اخيستل کېږي، ياد چک لېستونه ټولو اړوندو مرکزي رياستونو ته استول شوي، ترڅو معلومه شي چې فعاليتونه د پلان سره سم اجراء شوي دي او کنه؟

٤. د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې احصائيوي فورمې تر ډکولو وروسته ملي احصائيې اداري ته لېږل شوې دي.

٥. د ۳۴ ولايتونو د محاکمو، د تميز ۱۰ دېوانونو د قضائي اجراآتو او د حقوقو عمومي رياست د کاري اجراآتو جدول ترتيب شوی او د قضائي تفتيش د (مرکز او جنوب غرب) زونونو رياستونو ته د محاکمو د اجراآتو د ارزونې لپاره استول شوی دی.

٦. د ۳۴ ولايتونو د محاکمو د قضيو د رسېدنې راپور د ۱۴۴۶ هـ ق کال د دويمې ربعې لپاره، د مالي او اداري رياست ته استول شوی دی.

۷. د فتحې له نېټې څخه د ۱۴۴۶ هـ.ق کال تر دويمې ربعې پورې د ابتدائيه، مرافعه او تميز محاکمو، حقوقو عمومي رياست او وثايقو د اجراآتو راپور ترتيب شوی او د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست ته استول شوی دی.

۸. د محاکمو د (۱۴۰۰، ۱۴۰۱، ۱۴۰۲، ۱۴۰۳ هـ ش کلونو) د وثايقو اجراآتو راپور ترتيب او د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست ته لېږل شوی دی.

۹. د تميز عالي رياستونو د (۱۰) دېوانونو او د ۳۴ ولايتونو د محاکمو د درېيمې ربعې راپورونه ترتيب او په احصائيې ډيتابيس کې ثبت شوي دي.

۱۰. د افغانستان اسلامي امارت د محترمې کابينې د پرېکړو د ابلاغ، تعقيب، ترتيب او راپورونو د راټولولو په برخه کې تل لازم اجراآت ترسره شوي دي.

۱۱. د کابينې د (۱۱مې) شمېرې، (۱۴۴۶/۹/۱۷ هـ ق) نېټې مصوبې د (۱، ۲، ۳) بندونو راپور ترتيب او چارو اداري لوی رياست ته استول شوی دی.

۱۲. د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شپږو احکامو (۴۹۰۹ ـ ۴۹۸۸ ـ ۵۰۸۳ ـ ۵۰۸۵ ـ ۵۰۸۷ — ۵۵۶۸) د تطبيق راپور ترتيب او د احکامو او فرامينو د نظارت لوی رياست ته لېږل شوی دی.

۱۳. د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله) د ۲۸ قطعي احکامو (۱۲۷۶ ـ ۱۲۸۰ ـ ۱۲۸۱ ـ ۱۳۷۹ ـ ۱۵۹۴ ـ ۲۱۸۴ ـ ۲۲۲۱ ـ ۲۲۲۳ ـ ۲۳۱۳ ـ ۱۹۸۱ ـ ۱۹۰۵ ـ ۱۸۹۱ ـ ۱۸۱۶ ـ ۱۷۷۲ ـ ۱۶۴۴ ـ ۱۶۴۳ ـ ۱۶۳۷ ـ ۱۵۹۵ ـ ۱۹۴۵ ـ ۲۵۵۵ ـ ۲۵۵۲ ـ ۱۹۹۸ ـ ۱۹۷۴ ـ ۲۰۷۴ ـ ۲۰۸۱ ـ ۲۲۴۱ ـ ۲۲۵۱ — ۲۲۶۹) د تطبيق راپور ترتيب او اړوند ادارو ته استول شوی دی.

١٤. د رياست‌الوزراء عالي مقام د (۱۰۰مې) شمېرې، ۱۴۴۶/۱/۴ هـ ق نېټې حکم د تطبيق راپور ترتيب او د چارو اداري لوی رياست ته لېږل شوی دی.

١٥. د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د غوښتنې مطابق د ۱۴۴۶ هـ ق کال د دويمې ربعې لپاره د مرکزي رياستونو د فعاليتونو راپور ترتيب، توحيد او په "قضاء" مجله کې د چاپ او نشر لپاره لېږل شوی دی.

١٦. له پنځه کلن ستراتيژيک پلان څخه د يو کلن پلان تجريد، ترتيب او تنظيم ترسره شوی دی.

١٧. اقتصاد وزارت ته د هغوی د مطالبې په اساس د سترې محکمې د منسوبينو د ظرفيت لوړونې ستراتيژيک پلان راپور استول شوی دی.

١٨. د ۱۴۰۴ هـ ش مالي کال لپاره د سترې محکمې د منسوبينو د ظرفيت لوړونې پلان ترتيب او اقتصاد وزارت ته لېږل شوی دی.

١٩. د درېيمې ربعې لپاره د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو د حاضريو راپور د ۱۴۴۶ هـ ق کال ترتيب، توحيد او اړوندو مراجعو ته استول شوی دی.

٢٠. د دويمې ربعې لپاره د ښځو د ميراث او ملکيت حقوقو ته د لاسرسي راپور ترتيب شوی او د درېيمې ربعې راپور تر کار لاندې دی.

٢١. د يو کلن پلان مطابق د دويمې ربعې لپاره د مرکزي رياستونو پلان شوي او غير پلاني فعاليتونه ترتيب او د چارو اداري لوی رياست ته استول شوي دي.

٢٢. د سترې محکمې د کلني پلان له مخې، د پاليسيو، طرزالعملونو، لارښودونو، موجوده او اړينو ميکانيزمونو د معلوماتو راټولولو لپاره پوښتنليکونه د مرکزي رياستونو سره شريك شوي وو، چې له راټولو وروسته په ټاکلي فارمټ کې ترتيب او يوځای شول او اړوند جدول د مقام د اصولو مطابق شريک کړل شوی دی.

٢٣. د ماليې وزارت له خوا د بوديجې اورېدنې په غونډه کې ګډون شوی او د موضوع اړوند نظريات وړاندې شوي دي.

٢٤. د چارو اداري لوی رياست له خوا جوړ شوي ورکشاپ کې چې د پلان او راپور ورکولو په تړاو ترتيب شوی و، ګډون شوی دی.

٢٥. د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې لپاره د پلان مطابق د مرکزي رياستونو د اداري فعاليتونو د څارنې پروسه په حضوري ډول پيل شوې ده.

٢٦. د سترې محکمې داخلي مسجد پراخولو کار، د کابل ښار د ښاري محکمې د مسجد د جوړېدو، د کتابتون د پراخېدو لپاره د ډيزاينونو ترتيب او د کار څارنه، په جنګلک کې د تعليمات قضائي اړوند مسجد د بيارغونې کار دوامداره څارنه شوې ده.

٢٧. د تدارکاتو ملي رياست د تخنيکي معاونيت د (۴مې) شميرې تعديل په اساس، د ټولو امارتي ادارو لپاره د IMS ډيجيټل سيستم خدمات وړاندې کولو قرارداد د افغان تليکام مخابراتي شرکت سره ترسره شوی دی.

٢٨. د مالي او اداري چارو عمومي رياست د رسمي وړانديز پر اساس، د محاکمو د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره IMS Voice over IP سيسټم په امتحاني ډول فعال کړی دی، چې له هغه څخه اوس مهال استفاده روانه ده. په راتلونکي پلان کې، د سترې محکمې د دفترونو لپاره هم دا سيسټم فعال کول په پام کې دي.

## د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رياست د روان ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

١_ د بهرنيو چارو وزارت د ډيپلوماسۍ انسټيټوټ په تخنيکي همکارۍ سره، د ډيپلوماسۍ درې مياشتنۍ روزنيزه دوره چې مخکې پيل شوې وه، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو له (۳) تنو ګډونوالو سره په بريالۍ توګه پای ته ورسېده، دا روزنه د نړيوالو تعاملاتو د درک او اړوندو مهارتونو د لوړولو په موخه ترسره شوې ده.

٢_ د اداري چارو د لا ښه تنظيم او د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې لپاره، د سترې محکمې د اداري کارکوونکو د اجراآتو ارزونې په موخه د هغوی د شهرت جدولونه د ټاکلي مهال‌وېش سره سم ترتيب او تنظيم شوي، ترڅو پر بنسټ يې د هر کارکوونکي وړتيا و ارزول شي.

٣_ د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې په جريان کې، د سترې محکمې لپاره (۱۴۶) تنه اداري کارکوونکي استخدام شوي دي، ترڅو اداري چارو ته لا زيات نظم او چټکتيا ورکړي.

۴_ د سوانحو دفتر په برخه کې، د استخدامي مراحلو له بشپړېدو وروسته، (۱۹۰) جلده قضائي، (۱۸۱) جلده اداري او (۳۴) جلده د خدماتي کارکوونکو سوانح ترتيب او تحرير شوي دي.

۵_ د رواني ربعې په ترڅ کې، (۷۴) تنه متعهد قاضيان د ترفيع يا ټاکنې لپاره د مشرتابه عالي مقام ته پيشنهاد شوي دي، ترڅو د وړتيا، صداقت او تعهد له مخې له هغوی څخه اعظمي استفاده وشي.

۶_ سترې محکمې د هېواد په کچه د (۴۲۲) ولسواليو لپاره د ابتدائيه محاکمو تشکيلات ترتيب کړي دي، له دې جملې څخه د کندهار ولايت د سپين بولدک، د هرات د انجيل، او د کندوز د امام صاحب ولسواليو ابتدائيه محاکم د جوړ شوي ساختار له مخې فعالې دي، چې هره يوه يې د اړوندو دېوانونو په چوکاټ کې قانوني خدمات وړاندې کوي.

۷_ د مرکزي زون د عالي تميز، جزا، امنيت عامه، مدني، تجارتي او نظامي دېوانونو، د کابل ښاري ابتدائيه او استيناف محاکمو او د اسنادو او وثايقو د ثبت آمريتونو د کارکوونکو لپاره، د «اداري مراسلاتو» تر عنوان لاندې (۶) روزنيز سيمينارونه د سترې محکمې روزنيز مرکز کې ترسره شوي دي.

۸_ همداراز، د يادو ادارو د کارکوونکو لپاره، د «پلان جوړونې اساسات» تر عنوان لاندې (۶) نور روزنيز سيمينارونه هم ترسره شوي، ترڅو د پلان جوړونې په برخه کې د هغوی علمي ظرفيتونه لوړ شي.

۹_ د سترې محکمې د محافظتي قطعې د منسوبينو د مسلکي ظرفيت لوړولو په موخه، درې (۳) تعليمي ټولګې د تخنيکي ادارو په همکارۍ د سترې محکمې روزنيز مرکز او د محاکمو د امنيتي چارو په رياست کې پيل شوي او لا هم دوام لري.

۱۰_ د اسنادو او وثايقو د ترتيب او تحرير په برخه کې، د کابل ولايت د ښاري ابتدائيه او استيناف محاکمو او د ثبت آمريتونو د کارمندانو لپاره، (۵) روزنيز سيمينارونه د سترې محکمې د روزنيز مرکز په همغږۍ ترسره شوي دي.

۱۱_ همداراز، د محاکمو د اداري سيستم بنسټيزو مهارتونو د لوړولو لپاره، د مرکزي زون اړوندو ادارو لپاره (۶) روزنيز سيمينارونه تنظيم شوي، ترڅو د مؤثرو او شفافو اداري خدماتو وړاندې کولو ته لاره هواره شي.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه سرته رسولي دي:

* د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د سترې محکمې د ديني روزنې او اصلاحي برنامو په دوام، د سهار له لمانځه وروسته د منسوبينو لپاره د قرآن کريم د تفسير او ترجمې درسونه دوام لري؛ چې د ګډونوالو د ديني پوهاوي، فکري اصلاح، او روحاني ودې کچه يې په ښکاره ډول لوړه کړې ده.

● د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني نصاب تدريس په نوې بڼه وړاندې شوی، چې په ياد نصاب کې د اسلامي احکامو، فقهي مسائلو، شرعي لارښوونو، د معاصر اسلامي فکر، عقيدوي وضاحت او اخلاقي اصلاحاتو موضوعات ځای پر ځای شوي، څو د کارکوونکو ديني روزنه له نوې فکري زاويې سره بشپړه شي.

● د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني اصلاح او معنوي بيدارۍ د پياوړتيا لپاره، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو او محاکمو، امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې منظم اصلاحي بيانونه تنظيمېږي؛ چې په دې بيانونو کې د عدالت تامين، اداري اخلاقو او سلوک، د فساد مخنيوی، د ديني اصولو مراعات او د اسلامي نظام د تطبيق اهميت په واضحه توګه تشريح کېږي.

● د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د هغو کارکوونکو لپاره چې نالوستي يا کم سواده دي؛ ځانګړې ديني حلقې جوړې کړې، ترڅو د اسلامي عقايدو، لمونځ، روژې، زکات او نورو اساسي احکامو تدريس ورته وشي، د ليک او لوست د مهارتونو لوړولو په موخه د اسلامي نصوصو پر بنسټ ابتدائيه کورسونه پيل شوي، چې له لارې يې نالوستو منسوبينو ته د ديني زده کړو ترڅنګ، د ليک او لوست عملي زده کړه هم ورکول کېږي.

● د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د کارکوونکو د اصلاح او اخلاقي پرمختګ په برخه کې، د سيرت، اخلاقو او اداري نظم جدي څارنه شوې؛ د ديني ارزښتونو پر بنسټ هغوی ته اخلاقي مشورې، سپارښتنې او د مسؤوليتونو د ښې اداينې ترغيب ورکړل شوی. همداراز د ياد رياست لخوا د اسلامي اخلاقو، د اداري فساد مخنيوي او د عدالت تامين اړوند مهم اصول، نظامي او اداري کارکوونکو ته په واضح ډول بيان شوي دي، څو د شرعي معيارونو پر بنسټ د نظام اصلاح تضمين شي.

* د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني زده کړو د ارزونې په موخه د مرکزي رياستونو د منسوبينو زده کړې ارزول شوې، کلنۍ ازموينه ترې واخېستل شوه او په يادې ازموينه کې بريالي کسانو ته ډالۍ او تقديرنامې ورکړل شوې، ترڅو د ديني زده کړو هڅونه نوره هم پياوړې شي.

* د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم (شمېره ۳۵۴/۲۶۲۴، نېټه ۱۴۴۶/۵/۲۳) له مخې، د امر بالمعروف او نهې عن المنکر د قانون د تطبيق لپاره ځانګړې کمېټه جوړه شوه؛ څو د ياد قانون عملي تطبيق تضمين او د ټولنې اصلاحاتي بهير لا چټک شي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۳
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۱۲ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د متقاعدینو حقوقو ترلاسه کولو په خاطر د ولسوالیو په محکمو کې ترتیب شوي وثایق، د استیناف محکمې لخوا د تائید په اړه.

لکه څرنګه چې د یادې موضوع په اړه مخکې د سترې محکمې محترم عالي مقام هدایت د دارالانشاء عمومي ریاست د مکتوب نمبر (۷۷۲) مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۲۲ هـ ق په توسط د ټولو ولایتونو د استیناف محکمو ته استول شوی و، اوس د مالیې وزارت د مالي چارو معینیت د تقاعد سهمیې ریاست غوښتنه کړې چې د متقاعدینو د حقوقو ترلاسه کولو هغه وثیقې چې په ولسوالیو کې ترتیبیږي که د مربوطه استیناف لخوا امضاء او تائید شي، په همدې اساس د موضوع جریان د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شو په اړه یې د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۲ هـ ق په توسط محترم عالي مقام داسې هدایت وکړ:

«یاده موضوع دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي ترڅو د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۲۱ هـ ق په نظر کې نیولو سره په ولسوالیو کې د متقاعدینو د حقوقو ترلاسه کولو په خاطر ترتیبېدونکي وثیقې د اړونده ولایت د متقاعدینو د خدمت کولو دولتي اداري او د اسلامي بانک یا میوند بانک تر تائید وروسته د مربوطه ولایت د استیناف محکمې د رئیس لخوا تائید او امضاء شي.»

بناءً یاد هدایت د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۴
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۱۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د نظامي قطعاتو د منسوبینو قضیو ته د رسېدنې په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۶۰۶۱/۱۶۰۹) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۵ هـ ق.

لکه څرنګه چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۱) مؤرخ ۱۴۴۳/۸/۱۶ هـ ق مطابق ددغه درېیو ارګانونو: «د ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او استخباراتو عمومي ریاست» د منسوبینو قضیو ته د رسېدنې لپاره نظامي محکمه ذیصلاح بلل شوې وه اوس د نورو اداراتو نظامي قطعاتو لکه: «د مشرتابه خاص ځواک، د رئیس الوزراء امنیتي قطعه(PPS)، د سترې محکمې امنیتي قطعه، د محابسو د ساتنې قطعه او نور نظامي او مستقل قطعات...» په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د پورته ذکر شوي نمبر حکم په اساس داسې هدایت کړی دی:

«د سترې محکمې د امنیتي قطعې موضوعات دې د عامه امنیت دېوان مربوط سي، د خاص ځواک لپاره دې اختصاصیه محکمه جوړه سي، پاته نور قطعات دې د نظامي محکمې مربوط سي.»

بناءً د مشرتابه محترم عالي مقام یاد هدایت د سترې محکمې محترم مقام د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۲ هـ ق مطابق د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۵
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۲۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د فیصلو د تطبیق د ځنډ علتونه او حل لارې.

د سترې محکمې د محترم عالي مقام په مشورتي غونډې مؤرخه ۱۴۴۶/۱۱/۸ هـ ق د دوهمې پرېکړې د هدایت مطابق د حقوقو عمومي رئیس محترم مفتي محمد ابراهیم جان «ابوالحفاظ» صاحب او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید «سعید» صاحب لخوا د قطعي او نهایي فیصلو د تطبیق د ځنډ علتونه او حل لارې ترتیب شوې او د دارالانشاء عمومي ریاست د پیشنهاد نمبر (۱۵۹) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۹ هـ ق مل د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شوې په اړه یې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۲۳ هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ:

«د فیصلو د تطبیق د ځنډ علتونه او حل لارې چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست او د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست لخوا په ګډه ترتیب شوې، تائید دې اړونده مراجعو ته دې واستول شي.»

بناءً د تطبیق د ځنډ علتونه او حل لارې دديې متحدلمآل مل په (۴) ورقو کې د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوې.

یادونه: د تطبیق د ځنډ د علتونو د نهمې حل لارې په یادونه کې چې د ربع وار راپور هدایت شوی د یاد راپور د جدول نمونه هم ددې متحدالمآل مل دی.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۶
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۲۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (٦٢٨٢/١٦٤٦) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۲ هـ ق د نشه‌یي توکو د بندیز د فرمان د تطبیق په اړه.

د کورنیو چارو محترم وزارت د نشه‌یي توکو پر وړاندې د مبارزې محترم معینیت د پیشنهاد نمبر (۲۱۵۳) مؤرخ ١٤٤٦/١٠/٢٨ هـ ق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته خپله استهداء وړاندې کړې په اړه یې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (٦٢٨٢/١٦٤٦) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۲ هـ ق په توسط داسې هدایت کړی دی: «اړونده محکمې دې د نشه‌یي توکو د بندیز فرمان تطبیق کړي نور وخت دې نه ورکوي.»

بناءً د مشرتابه محترم عالي مقام یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۷
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۲۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د نیول شوو نشه‌یي موادو د سوځولو په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام حکم.

هغه نشه‌یي مواد چې د اسلامي امارت د منسوبینو لخوا نیول شوي په ګدامونو یا نورو ځایونو کې پراته دي او دوسیې یې د حل او فصل په موخه اړونده محکمو ته استول شوي اړونده محکمې دې بې له ځنډه د یادو نیول شویو نشه‌یي موادو د سوځولو په اړه فیصلې صادرې کړي او د محکمې تر فیصلې وروسته دې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۵۰۹) مؤرخ ۱۴۴۴/۸/۱۶ هـ ق په دوهم جزء کې د ذکر شوې ګډ هیئت (د کورنیو چارو وزارت، د استخباراتو عمومي ریاست او د عامې روغتیا وزارت) له خوا یاد نیول شوي نشه‌یي مواد د اړوند محکمې په حضور کې په عام محضر کې وسوځول شي.

بناءً د سترې محکمې محترم عالي مقام یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۸
**نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۲۸ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د تېرې اداري په فیصلو کې د محفوظ شوي حق العبدي برخې د څېړلو ذیصلاح محکمې د تعین په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (٦٤٠٧/٨٤٨) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۱/۱۵ هـ ق داسې صراحت لري:

«د قتل هغه موضوعات چې د تیرې اداري د محاکمو له خوا یې د حق العبد برخې محفوظې بلل شوي، دا چې د حق العبد برخې ته یې په هغه وخت کې هم جریان نه دی ورکول سوی، بناءً د مدعي د غوښتنې او نوي دعوې څخه پرته دې دغسې موضوعاتو ته جریان نه ورکول کیږي، البته که مدعي محکمې ته حاضر سي او د نوي دعوې غوښتنه وکړي بیا دې یاد موضوعات د تېرې اداري د فیصلو د بیاځېړلو اختصاصي محکمو څخه پرته نوري محاکمې وڅېړي.»

بناءً د مشرتابه محترم عالي مقام یاد حکم د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

# د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه سرته رسولي دي:

- د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د قضایاوو اړوند حقوقي او شرعي اړخونو د روښانوالي، د شرعي اصولو د پلي کېدو او د محاکمو د قضائي پرېکړو د تقویت په موخه (۱۰) شرعي فتواګانې صادرې شوې دي؛ یادې فتواګانې د بېلابېلو موضوعاتو په تړاو صادرې شوې، چې د محاکمو د قاضیانو او قضائي منسوبینو د شرعي لارښوونې لپاره کارول کېږي او د قضایاوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي بنسټ برابروي.
- د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې یو تن بهرنی تبعه، د تحقیق، پوهاوي او خپل اختیار له مخې د اسلام په مبارک دین مشرف شوی دی؛ د یاد ریاست لخوا د اسلامي اصولو مطابق، د نوموړي د اسلام قبلولو بهیر د اړوند قضائي چاراوکو له لوري ثبت او تائید شوی، ورسره یې د اسلام مبارک دین قبلولو رسمي تصدیق پاڼه هم ترلاسه کړې؛ چې دا بهیر د اسلامي ارزښتونو د خپرېدو ترڅنګ د قضائي ادارو د دیني خدمتونو یوه مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.
- د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست کتابتون رامنځته شو؛ چې د سترې محکمې عالی مقام لخوا ورته یو شمېر کتابونه په څو مرحلو کې واخېستل شول او د یاد ریاست په واک کې ورکړل شول.



میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳